ليکونکی: ابراهيم نهيمی
۲۰۱۰/۰۸/۲۲م

# دکابل ښار، ککړ چاپيريال او دناروغيو سرچينی

لومړی برخه



دکابل سيند

دګران هيواد دپرمختګ لپاره دکورنيو سياستوالو او په ځانګړی ډول دبهرنيانو لخوا ډيری ناری او سوری وهل کيږی چی په افغانستان کی به په ټول ډول ژوره او بنسټيزه بيارغونه کيږی. که يوازی پرتبليغاتوحساب وشی نوسړی به فکروکړی چی په رښتيا به دميلياردونو ډالرونو په باران کی افغانستان همدا اوس نيويارک، توکيو او يا دنړی نوروښکلو ښارونو ته ورته وی. داهغه سوچونه وه چی ماهم درلوده ولی زما دروان کال دجولای دمياشتی سفر داخيالونه په ډارو ونکو خوبونو بدل کړه. نوزه په دی ليکنه کی دزرهاو ناخوالو څخه دککړ چاپيريال او ورځنی حفظ الصحی موضوع د لومړنی مقالی په توګه غوره کوم، ځکه که انسان جوړنه وی نوهرڅه په ټپه دريدلای شی. او غواړم خپل دسترګو ليدلی حال دانځورونو سره يوځای تاسو ګرانو لوستونکوته وړاندی کړم :

۱ ـ دکابل په ښارکی دشميرنه وتلی موټری وسايل شته چی ډيريی هغه موټرونه هم دی چی په پرمختللوهيوادونو کی لړه ګټه ورڅخه اخيسته کيږی. دبيلګی په توګه هغه موټران چی(۱۵ ـ ۲۰) کلونه او ياتردی نه زيات زاړه دی، په ښارکی چليږی. داسی موټرونه تاسو پوهيږی چی څومره چټلی او دودبه رامنځته کوی، چی دخلکو پر روغتيا مستقيمه ناوړه اغيزه لری.

بله ستونزه خوداده چی دموټرانودزياتيدوسره، سړکونه او لياری په هغومره کچه زياتی شوی نه دی. او دبل لوری په دی بهانه چی نوی سړکونه جوړيږی، ډيرځايونه داسی دی چی دخاورو او دوړو سرچينی ګڼل کيږی. دځان مرګی بريدونو دبيری او ياهم دواکدارانود واک دنمايش په خاطرلاری حتی يوساعت هم تړلی وی، نوچی يومهم دولتی اياخارجی واکدار تيريږی. موټرونه چالان ولاړ او لوګی يی دشنه اسمان مخ پوښلی وی.

۲ ـ په تيرو وختوکی دکابل په ښارکی څه ناڅه شنی درختی او شنه پارکونه وه، ولی د چور او چپاول په دوران کی لکه بل هرڅه درختی او شنه پارکونه هم دمنځه ولاړه. پارکونه خوو دواکدارانو له خوا دکورونو جوړولو لپاره وپلورل شوه او ياهم دجګړو په وخت کی خپل سری بلډنګونه او کورونه وربانده جوړشوه. کله چی باد راوالوزی نويوازی دوړی او لوګی دخلکودنفس کښلو لپاره شتون لری او بس.

اوس می اوريدلی دی چی دکرنی وزارت دهرکال په لومړی ورځ دوديزه نيالګی ايښودنه دتلويزيون له لياری اعلان کوی، ولی په دی لسو کلنوکی کومه ځانګړی اثر نه ترسترګو کيدی. په هيواد کی له پخواڅخه دپلمی پيدا کولو رواج شته چی ويل کيږی :

وروره! هرڅه وخت ته اړتيالری. نولس کاله به هم ديو پارک دجوړولو لپاره لږوی او يامُمکن داسی وويل شی چی نيالګی ايښودل شوی دی ولی په لس کاله خو درختی نه ورنه جوړيږی!! داخبره به داسی ومنوچه افغانی نيالګی په لسوکلونوکی وده نه کوی!!!!

۳ ـ دحيرت وړخو داوه چی ځنی مهم سړکونه له هغه وخت څخه چی زه په کابل کی محصل وم (د۱۹۷۱زکال څخه) تراوسه په خپل سری حالت چی طبعی حالت هم ورته ويل کيږی پاته وه. (البته وجه به يی داوی چی موږ دپخوانی اثارو په ساتلوکی پياوړی يو).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ددی سړکونوڅخه یوه بیلګه یی یادووم: دسیلو شا او یاڅنګ ته چی دکابل پوهنتون سره تړل کیږی. دلته نو رهم ښکلی څو پوړیزه ودانی جوړی شویدی، ولی دودانی مخی ته هغه کنډ و کپرسړکونه تراوسه پاته دی چی باران وشی، دچټلیو او ختوڅخه خوځښت ناممکنه کیږی او که باران نه وی نو دومره دوړی او خاوری بادیږی چی دکورونو په دننه کی به هم څوک ورپکښی پټیږی. دروان کال دجولای په میاشت چی زه په کابل کی وم دکوټه سنګی لوری ته لاره بنده وه نوموټر دپوهنتون له مخی راتیریده او په دغو کوڅوکی د سیلو دسړک سره یوځای کیده. داچی څومره بیروباروه تر تیربه شم ولی داسی کنډو کپرلاروه چی دسپرلیوزړه ترخوله لویدی. یوورځ دټکسی چلوونکی سره ناست وم، دنوموړی څڅه می وپوښتله چی په داډول سړکونوکی ستاسو دموټرو څه حالت وی، هغه داسی راته وویل: وروره! دشپی دوجود ددردونو څخه خوب نه شم کولای ځکه ټوله ورځ پردِغسی مات او کنډوکپر سړکونو وجود دومره کوټل کیږی چی همیشنی دملادرد راته پیداشوی دی. او دموټر ویجاړ حالت می ته وینی. دوه کاله مخکی می نړدی نوی موټر رانیوی. ولی اوس داسی ښکاری لکه دشلو کلونو زوړموټر. څه وکړو؟ دغه موژونددی خدای دی راجوړه کړی!

بله ورځ می دیودولتی دریور څخه پرهمدغه سړکونو وپوښتله چی: دغه ښایسته او موډرنی ودانی باید حتماً دپیسه لرونکوخلکووی. دسړکونوچی دغه حالت وی. کله چی باران وی نوموړی نازولی څنګه دکورنه راوزی ددوی فیشنی اولوکسی جامی نه چټلیږی؟

جواب: دوی په موټرکی ناست دخپلی ودانی دعمومی دروازی څخه راوزی او داچی دنورو خلکوحال څه دی، ددوی لپاره څه په زړه پوری او داندیښنی وړکیسه نه ده.

ترلارو، سړکونو، پارکونو او نیالګیوچی ورتیرشو، نوبه لږڅه مکث دښار په معمولی حالت وکړو چی داښارڅومره دژوندکولو لپاره دروغتیایی او یاهم پاکی په وجه دژوند کولولپاره مساعددی؟

۱ ـ دسفرپه دومه ورځ می څه وخوړل ولی دعادت له مخی دخوړو پاتی څه چی باید په چټل دانی کی غورځول شوی وای، دوی ورځی می په جیب کی ګرځول ولی په ټول ښارکی می یوه چټل دانی ترسترګونه شوه. دچا څخه می وپوښتله چی په ښارکی دسړکونو پرغاړه او یاهم لوی او لوکسو رسمی ودانیوته نژدی کومه چټل دانی پیداکیږی؟

جواب : عجیب سړی یی، داروپا خوبونه هیرکړه. څووخته مخکی په ښارکی چټل دانیانی کښیښودل شوی ولی هغه خلکوغلا کړی. نوڅه به درتهووایم، هغه څه چی می دوی ورځی به جیب کی ګرځولی وه دخپل یودوست یوزلمی زوی ته می ورکړه او ورته ومی ویل: ماخویی دغورځولو کوم ځای پیدانه کړ، ته یی واخله چیرته یی چی غورزوی.هغه هم سمدستی لکه بل هرڅوک خپل مخی ته په لښتی(چری) کی واچول چی دلښتی چټلی نورهم زیاته شوه. ماورته وویل چی ولی یی په داسی ځای کی اچوی؟ نوچیری یی واچوم. ماهم کوم ځواب نه درلودی او ددی نه وروسته می هرځل دزلمیانو څخه مرسته غوښته او ځانته می په دی قناعت ورکاوه چی زه خودا کارنه کوم چی شیان بی ځایه وغورځوم.

**سوال دادی چی په دی حالاتوکی مسولیت دچادی او چاره یی څه ده؟**

**دکابل سیند دچټلیوستر بیرل**

دکابل سیند چی په تاریخونوکی یی نوم ډیرشهرت لری نو اوس به یی تاسوپه لیدلو باندی ګوته په غاښ ونیسی. دسیند ډیرانځورونه می اخیستی دی چی تاسو به یی په همدی پانه کی ووینی نوبیابه خپله قضاوت وکړی چی ایا زمالیکنه څومره رښتیاته نږدی ده.

دښارمرکزی برخه چی دولس مشراستوګنځی، دکانواو صنایعو، عدلیی، مالیی او نوروزارتونه پراته دی او څنګ ته یی لویه پلورنځی(فروشګاه بزرګ) دابل لوری ته دپل خشتی جامی جومات او دشهزاد تجارتی سرای، عایشه درانی لیسه که دوام ورکړی نورمهم ځایونه ترسترګوکیږی. نو که په دغه لاره کی یوځل دسیندو مینځته وکتل شی، انسان ته به عجیبه معلومه شی چی په دومره ګرمه هواکی دښار په منځ په یوسیندکی دچټلیو ګدامونه وجودلری، نوڅنګه کیدای شی چی دکابل ښاریان دعادی ولی خطرناکه میکروبی ناروغتیاو څخه تراوسه ژغورل شوی دی. په هیڅوجه ښاریان او په ځانګړی ډول ماشومان ژغورل شوی نه دی نو ځکه دډاکټرانوکتنځیوته د اصلاحاتو، پیچ اونوروورته میکروبی ناروغیوپه درلودلو دانتظاراوږدی لیکی جوړی وی او هرڅوک لکه دخوړومواد ددواوډکی کڅوړی هره ورځ کورونوته راوړی. زماسره یوه پوښتنه داده:

۱- دروغتیاوزارت څوځلی دمخالفو وسلوالوڅخه غوښتی دی چی دواکسین کولوپر وخت دروغتیایی کارکوونکو سره مرسته وکړی او مخالفت یی ونه کړی. دکابل په ښارکی څه امنیتی ستونزه ده چی داسی حالت دی. دلته خوښاروالی هم لرو. نوریاست چی دسالم او پاک چاپیریال ساتلودنده لری، دپرمختللو هیوادونو په څیرجوړشوی دی، دولس مشرپه ګډون ټول لوړپوړی چارواکی په دغه شا و خوا کی دفترونه لری. ماته داعجیبه ده چی بهرنی میلمانه چی ددغه ځای څخه تیریږی، وزیرصاحبان یوڅه نه تخنول کیږی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چی ژمی شی بیا دکابل سیندیوه بله ننداره جوړه وی، دغریبوخلکوکورونه، ددوی بړستنی او نورڅه که یی درلوده دځانه سره وړی او چټلی هم داوبو پروخت په ډیرطوفانی ډول دسیند په منځ کی ځپی وهی. داچاره هم چی زما رایادیږی همداډول دډروکلونوپه اوږدوکی دوام لری.

**دا وظیفه دچاده، څوک یی باید پاک کړی او څوک یی پاک وساتی؟**

**ددی ستونزی دحل کیلی دچا سره ده؟**

ددی ټولوسوالو ځوابونه به په وروستی برخی کی وڅیړو. داوس لپاره همدابس دی.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ